# رياء د اسلامي شريعت له آنده

نامزد پوهنيار عبدالبصير مظهري، فقه او قانون شرعياتو پوهنځی لغمان پوهنتون

**لنډيز**

دا چې الله تعالې او رسول الله صلی الله عليه وسلم مسلمانان ښه اخلاقو ته رابللي او د ناوړه او بدو اخلاقو څخه يې منعه کړي نو د ناوړه اخلاقو له جملې څخه يو هم رياء ده چې ډير دنياوي او اخروي زيانونه لري رياء دې ته وايي چې په يو کار کې دغير الله لپاره اخلاص پرېښودل شي رياء چې په فعل کې وي او السمعه دېته وايي چې په خبرو کې وي. ځينې وايي چې څوک د غير الله لپاره عمل وکړي دا رياء بلل کيږي او څوک چې پټ عمل وکړي او بيا يې خلکو ته قيصې کوي دا السمعه بلل کيږي رياء دکولو او ليدنې له مخې په پنځه ډوله کيدلی شي، چې په لاندې توګه بيانيږي:

دبدن رياء، د ځيرې او هيئت رياء، په خبرو کې رياء اوپه عمل کې ، رياءګناه کبيره ده، چې په دې کې له الله تعالی پورې خندا او استهزاء کول دي، او هم خلکو سره دوکه او چل کول دي، چې هغوی ته ځان مخلص ښيي خو خپله يې باطل چټل او دوکه باز وي. له همدې امله رسول الله صلی الله عليه وسلم هم شرک الاصغر بللې ده لنډه دا چې رياء په هر ډول چې وي بد او مذموم کار دی، موږ ټولو ته په کار ده چې خپل عبادات او نور اعمال له دغه بد او ناولي شي څخه وژغورو.

**کليدي کليمې:** ريا، اخلاق، باطني، مسخرې، زيانونه

**سريزه**

الحمد لله وحده والصلاة والسلام على من لا نبي بعده و على آله واصحابه الذين اوفوا عهده اما بعد! اسلامي شريعت دانسان روحي او جسمي ټولو اړخونو ته يې بشپړه پاملرنه کړې. دانسان ظاهري اخلاقو له سمون سره سره يې د انسان باطني اخلاقو سمون ته پوره پاملرنه کړې، ټول باطني بد اخلاق يې رد کړي دي، يو له هغو بدو باطني اخلاقو څخه رياء هم ده چې دانسان لپاره ستر نقصانات او تاوانونه لري، چې په دې موضوع کې به دخپلې وسې سره سم وڅېړو.

**دموضوع اهميت**

دا چې اسلام دانسان باطني ناوړه اخلاقو د ترديد لپاره هم ګڼې لارښوونې لري، چې دغه اخلاق دانسان په سيرت او صورت پوره اغيزې لري، رياء هم له هغو اخلاقو څخه يو باطني اخلاق دي چې دانسان په اصلاح او سمون کې يې رول ښکاره دی.

رياء دانسان ايمان کمزوری کوي او کله کله يې بيخي له ايمانه خلاصوي. ځکه ريا له الله تعالی پورې ټوکې او مسخرې کول دي او هغه پورې استهزاء ده. چې دا چارې انسان له ايمانه خلاصوي. پدې اساس مسلمانانو ته ضرور ده، چې په دې موضوع ځان وپوهوي، تر څو له دغه ناوړه عمل څخه يې اعمال وژغورل شي، چې دا ټول ددې موضوع په اهميت دلالت کوي.

**د څېړنې پوښتنې**

۱. آيا رياء او سمعت ترمنځ توپير شتون لري؟

۲. آيا رياء د باطني ناوړه اخلاقو څخه ګڼل کيږي

۳. ايا رياء ته شرک ويل شوي؟

د څېړنې ستونزه

دا چې ریاء د ناوړه باطني اخلاقو له جملې څخه ده او هر مسلمان باید له دې څخه ځان وژغوري نو په یاده مشخصه موضوع کې که څه هم ځینې لیکنې شته خو اکثره په عربي او یا نورو ژبو دي، چې زموږ اکثره هېوادوال پرې نه پوهیږي،نو ستونزه محسوس کېده چې باید پرې لیکنه وشوي ترڅو هیواد وال ورڅخه استفاده وکړي.

## د څېړنې موخې

۱- ریاء وپیژني.
۲- دریا او سمعت په فرق به پوه شي.
۳- د ریاء په ډولونو او اضرارو به پوه شي

## د څېړنې تګلاره

ددې مقالې په لیکلو کې مې هڅه کړې چې د معتمدو مراجعو څخه استفاده وکړم اولا مې موضوع اړوند په قراني ایاتونو استدلال کړی او د قراني ایاتونو پښتو ژباړه مې کړې ده همدارنګه مې د موضوع اړوند نبوي احادیث ذکر کړي او د ژباړې ترڅنګ مې مختصر تخریج د حدیث کړې د موضوع د لا روښانتیا په خاطرمې معتمدو فقهي متونوته مراجعه کړی او هر لیکونکی ته مې د هغه وینا منسوب کړې او علمي امانت خیال مې پکې ساتلي دی.

**مناقشه**

**ریاء پېژندنه**

الف: درياء لغوي تعريف: (الرياء) مصدر دی، چې مجرد يې (رای) دی. د (رای) خپله اصلي معنا د سر په سترګو کتل دي. (ابن فارس، ۱۳۹۹ ه ق .ج ۲ ص ۴۷۲. )

البته کله چې له مجردو څخه مزيد ته واوړي بيا دمشورې معنا هم ورکوي، لکه (استرايت) معنی يې ده (استشرات) مشوره چې مې ورسره وکړه. او رياء ته هم ځکه رياء وايي چې کوونکی يې خلکو ته ځان ښيي؛ نو ځکه کله چې څوک د ځان ښودنې لپاره يو کار وکړي؛ خلک وايي (فلانی رياء کار دی). (ابن منظور،۱۴۱۴ هـ.ج ۱۴ص ۳۰۰)

ب: اصطلاحي معنی: د رياء لپاره علماؤ بېلابېل تعريفونه کړي دي:

۱-امام الجرجاني وايي: (الرياء: ترک الاخلاص فی العمل بمراعاة غير الله فيه). (الجرجاني،۸۷)

ژباړه: رياء دې ته وايي چې په يو کار کې دغير الله لپاره اخلاص پرېښودل شي.

۲-تهانوي وايي: (الرياء: فعل الخير لاراءة الغير). (عدد من المتخصصين ، ج ۱۰ص ۴۵۵۲)

ژباړه: رياء دخير کار د بل چا لپاره کولو ته وايي.

۳-امام غزالي وايي (الرياء: طلب المنزلة فی قلوب الناس با يراءهم خصال الغير). (غزالي ، ج ۳ص ۲۹۷)

معنی دا چې رياء دخلکو په زړونو کې دمنزلت لټولو ته وايي چې د بل چا لپاره وي.

٤-ابن حجر فرمايي (الرياء: اظهار العبادة لقصد رؤية الناس لها فيحمدوا صاحبها). (ابن حجر،۱۳۷۹ هـ.ج ۱۱ص ۳۴۴)

ژباړه: رياء خلکو ته د ځان ښودنې لپاره دعبادت ښکاره کولو ته وايي تر څو هغه يې وستايي.

**د رياء، السمعه، نفاق او شرک ترمنځ فرق**

څرنګه چې وړاندې مو ووېل رياء خلکو ته ځان ښودلو ته وايي، دغسې السمعه هم له (سمع) څخه اخيستل شوی، خلکو ته ورارولو ته وايي، يعنې چې يو څوک خپل نېک اعمال يا بل څخه نورو ته اوروي دېته السمعه ويل کېږي او يو ډول رياء ده او رياء هم يو ډول شرک دی. دا درې واړه الفاظ په خپلو منځو کې تړاو لري، چې په علمي لحاظ يې څخه فرق دی؟ علماء لاندې نظرونه لري:

ځينې وايي چې رياء دېته وايي چې په فعل کې وي او السمعه دېته وايي چې په خبرو کې وي. ځينې وايي چې څوک د غير الله لپاره عمل وکړي دا رياء بلل کېږي او څوک چې پټ عمل وکړي او بيا يې خلکو ته قيصې کوي دا السمعه بلل کېږي. (ابن حجر،۱۳۷۹ هـ.ج ۱۱ص ۳۴۴)

د نفاق او رياء فرق دا دی چې په رياء کې اظهار وي او په نفاق کې اخفاء (پټوالی) وي، ځکه ريا خپل حقيقي نيت ددې لپاره ښکاره کوي تر څو دخلکو په وړاندې يې منزلت اوچت شي، مګر منافق چې په داخل کې يې څه دي هغه پټوي او دهغه خلاف ښکاره کوي.

له همدې امله الله تعالی د منافقانو په حق کې فرمايي: (يُرَاءُونَ النَّاسَ وَلَا يَذْكُرُونَ اللَّهَ إِلَّا قَلِيلًا). {النساء :۱۴۲آيت}.

ژباړه:او دوی خلکو ته دځان ښی دوی الله جل جلاله نه یادوي مګر ډیر کم.

یعني منافقان الله تعالی ډېر کم یادوي، خو ریا کار ذکر او نور کارونه ډېر کوي، ځان نشیط ښیي تر څو دخلکو په وړاندې يې رتبه اوچته شي. (عدد من المتخصصين ، ج ۱۰ص ۴۵۵۲)

لنډه دا چې دا څلور واړه یو ډول سره شریک دي، چې ستړې ګناهې بلل کېږي، هیله ده چې له ټولو ډولونو څخه په کلکه ځان وساتل شي.

**درياء ډولونه**

ریاء دکولو او لیدنې له مخې په پنځه ډوله کیدلی شي، چې په لاندې توګه بیانیږي:

۱-دبدن ریاء: پر بدن هغه وخت ریاء کیدلی شي چې انسان خپل بدن زیړ او کمزوری ددې لپاره ښیي تر څو خلکو ته وښیي چې ده سره د دین ډېر غم ده، ددین په کارونو سخت خفه کېږي، او داخرت سخته ویره ورسره ده.

۲-د څیرې او هیئت ریاء: دا هلته کېږي لکه ویښتان یې ګډوډ او جړ وي، په مخ باندې د سجدې اثر پریږدي، جامې یې ډبلې وي او لستوڼي لنډوي، جامې نه پاکوي او هم څیرې یې پرېښې وې دا ټول ددې لپاره کوي، چې ځان دسنتو پیرو وښیي.

۳-په خبرو کې ریاء: د دیندارو خلکو ریاء په دې کې کېږي، چې کله وعظ او نصیحت کوي، ډېرې حکمتي خبرې کوي، نا اشنا احادیث او اثار وايي تر څو خپل د علم غریزه ثابته کړي، یا دخلکو په مجلس کې شونډې خوزوي په ذکر سره، او دخلکو له مخې امربالمعروف او نهی عن المنکر کوي.

او ددنیادارو خلکو ریاء داده چې نا اشنا اشعارو یې یادوي، فصیح عبارتونه وایي، او عجیبه عجیبه کیسې کوي.

٤-په عمل کې ریاء: عملي ریاء په لمانځه کې راتللی شي لکه ډېر اوږد قیام او اوږده سجده کول.

او ددنیا په برخه کې عملي ریاء ډېر خیاله ګرځېدل چې په جاه او جلال دلالت کوي.

٥-دملګرو په ملاقات ریاء: په دې کې هم ریاء راتللی شي لکه یو څوک چاته ووایي چې زما زیارت ته راشي، تر څو خلك ووایي هغه فلانی ګوره چې دفلاني ملاقات ته لاړ. (عدد من المتخصصین ، ج ۱۰ص ۴۵۵۲)

لنډه دا چې په دې پنځه حالاتو کې کیدلی شي چې دانسان زړه کې ریاء راشي او دانسان اعمال له منځه یوسي؛ نو موږ ته په کار دي، چې په دغو پنځه وختونو کې خپل نیت خالص او ځان له ریاء څخه وساتو.

**دریاء درجې**

لومړی درجه: تر ټولو درنه او سخته ریاء ده چې هغه د ایمان په اصل کې وي، دا هغه ریاء کار دی چې په ژبه د شهادت کلمه ښکاره کوي، ځان مسلمان او مؤمن بولي خو په باطن کې تکذیب کوي چې دې ډول ریاء کار ته منافق ویل کیږي، ددې درجې ریاء کوونکی به د تل لپاره په جهنم کې وي.

دویمه درجه: هغه ریاء ده چې له لومړۍ څخه سپکه او کمه وي، لکه دجمعې او جماعت لمونځ ته د شرم او د خلکو د ملامتیا له امله ځي. او یا خپلوي او دمور او پلار سره نیکه رویه دخلکو دویرې له وجهې کوي، خپله یې رغبت نه وي، همدارنګه زکات او حج دخلکو د شرم او یا د دولت دویرې له امله کوي.

د الله تعالی دعذاب څخه ویره نه لري، بلکې دخلکو ویره او شرم ته دالله تعالی په عذاب باندې ترجیح ورکوي، د داسې ریاء کوونکي ته به ضرور عذاب ورکول کیږي.

دریمه درجه ریاء هغه ده چې په نفلونو سره کیږي، چې کله تنها وي دنفل په کولو کې سست وي، خو ریاء یې تیز وي لکه دناروغ پوښتنه، جنازې پسې تلل، دعرفات روژه نیول، دعاشورا دورځې روژه نیول او نور. دا ډول ریاء هم سخته ده خو له ړومبني څخه لږ سپکه ده.

څلورمه درجه ریاء هغه ده چې په نه کولو سره یې عبادت کې نقصان راځي، لکه یو څوک نه غواړي چې اوږده رکوع او سجده وکړي او یا هم اوږد قرات وکړي، خو دخلکو لپاره یې اوږد کړي، او یا غواړي چې په روپیو کې ښکاره روپۍ په زکات کې ورکړي، خو چې کله خلک پرې خبر شي، دهغوی د شرم او ویرې له امله ښې روپۍ ورکړي، او داسې نور.

دا هم د بدې ریاء یو ډول دی ځکه په دې کې مخلوق په خالق باندې وړاندې راځي.

پنځمه درجه هغه ریاء ده چې په عبادت نقصان نه راځي، بلکې دریاء په کولو سره د عبادت تکمیل راځي، لکه تکبیر اولی ته ځان رسول، درکنونو ترمنځ ښه اعتدال، له عادي قرات څخه لږ زیادت کول، په روژه کې دخلکو په مخ کې چپ والي او پس شا خبرې کول، لومړي صف ته ځان رسول، دامام په ښي طرف کې ودریدل. دا ټول خلکو ته دښودلو لپاره کول، دا ډول ریاء هم مذمومه ده. (القاسمي ، ۱۴۱۵.ج ۱ص ۲۳۵)

## دریاء حکم

که ریاء په عباداتو کې نه وي لکه ښکلې لونګۍ وهل، ښکلې وېښتان جوړول، ښایسته جامې اغوستل، تر څو دخلکو له خبرو خلاص شي او ښکلي او نظیف وګرځي دا ډول

ریاء مباحه ده کوم باک نه کوي، خو که نیت یې دکبر، ځان ښودنې او یا بل ډول وي، بیا بده او مزمومه ده، خلص دا چې د ریاء حکم دده نیت پورې تړلی دی.

که ریاء په عباداتو کې وي لکه لمونځ، روژه، زکات، حج، صدقه او نور. ددې ډول ریاء حکم دا دی چې درياء کار عمل باطل و ګنهګار دی، ځکه دی دوه کارونه کوي، یو دا چې دې خلکو سره مکر او چل کوي. ځکه دی خلکو ته ځان ښيي، چې مخلص او دالله تعالی فرمانبردار دی خو حقیقت کې داسې نه وي. (القاسمي ، ۱۴۱۵.ج ۱ص ۲۳۴)

همدا وجه ده، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دې ډول ریاء کار ته الشرک الاصغر (وړوکی شرک) ویلی دی، فرمايي (اخوف ما اخاف علیکم الشرک الاصغر فقیل: وما هو یا رسول الله ؟ قال: الریاء). (شيباني ، ج ۵ ص ۴۲۹)

یعنې زه له هغه شرک اصغر څخه پر تاسې ویره لرم، چا ورته وویل: دا شرک اصغر څه شی دی ای رسول الله؟ هغه وویل: هغه ریاء ده.

داسې ویل شوي چې د ریاکار لپاره به دمحشر په ورځ څلور نومونه اخیستل کېږي: ای ریکاره!، ای ټګه!، ای فاجره!، ای تاواني! لاړ شه له هغه چا څخه اجر وغواړه چې تا دهغه لپاره عمل کاوه، موږ سره دې اجر نشته. (الذهبي ، ۱۴۳)

او علامه ابن حجر الهیتمي خو دالشرک بالله ګناه څخه وروسته دوهمه لویه ګناه ریاء ښودلې ده، فرمایي: د ریاء په تحریم باندې کتاب الله، سنت الرسول او اجماع الامه دلالت کوي. بیا ګڼ شمېر دتحریم دلایل راوړي، چې دلته یې رانقلول موضوع اوږدوي او یا هم ددې موضوع په وروستي فصل کې همغه د لایل ذکر کېږي.

له هغو دلایلو وروسته بیا لیکي چې ریاء ځکه ګناه کبیره ده، چې په دې کې له الله تعالی پورې خندا او استهزاء کول دي، او هم خلکو سره دوکه او چل کول دي، چې هغوی

ته ځان مخلص ښيي خو خپله يې باطل چټل او دوکه باز وي. له همدې امله رسول الله صلی الله علیه وسلم هم شرک الاصغر بللې ده. (الهیتمي ،ج ۱ص ۹۲)

لنډه دا چې رياء په هر ډول چې وي بد او مذموم کار دی، مونږ ټولو ته په کار ده چې خپل عبادات او نور اعمال له دغه بد او ناولي شي څخه وژغورو.

## د رياء مذمت قرآن کريم له نظره

الله تعالی فرمايي:( يا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تُبْطِلُوا صَدَقاتِكُمْ بِالْمَنِّ وَالْأَذى كَالَّذِي يُنْفِقُ مالَهُ رِئاءَ النَّاسِ وَلا يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَمَثَلُهُ كَمَثَلِ صَفْوانٍ عَلَيْهِ تُرابٌ فَأَصابَهُ وابِلٌ فَتَرَكَهُ صَلْداً لا يَقْدِرُونَ عَلى شَيْءٍ مِمَّا كَسَبُوا وَاللَّهُ لا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكافِرِينَ) {البقرة :۲۶۴آیت}.

ژباړه: ای مؤمنانو! خپل خیراتونه په پاسلونه او ازار رسولو د هغه چا په څېر مه خاورې کوئ، چې خپل مال محضې خلکو ته دښودلو له پاره لګوي او نه يې پر خدای ایمان وي او نه پر اخرت د هغه دلګښت مثال داسې دی، لکه یوه ښویه تیږه چې دوړه پرې ناسته وي، کله چې جړی پرې وورېږي، ټوله دوړه ترې یوسي او تیږه هماغسې ښویه سوتره پاتې شي دې خلکو چې په خپل ګومان سره دخیرات کومه نیکي ګټلې ده له هغې نه هېڅ شی د هغو لاس ته نه ورځي او کافرانو ته سمه لاره ښودل د الله عادت نه دی

## د رياء په مذمت کې راغلي احادیث:

په دې هکله ګڼ احادیث شته چې مهم يې په لاندې ډول دی:

(قال: قال رسول الله صلّى الله عليه وسلّم: «إنّ أخوف ما أخاف عليكم الشّرك الأصغر» ، قالوا: يا رسول الله، وما الشّرك الأصغر؟ قال: «الرّياء). (شيباني ، ج ۵ ص ۴۲۹)

ژباړه:رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:زه په تاسی باندې له هرڅه نه ډېر چې ویره لرم هغه وړوکی شرک دی،پوښتنه وشوه وړوکی شرک څه شی دی ای رسول الله؟ هغه وویل:هغه ریاء ده.

لنډه ده چې دا اودیته ورته روایات ددې ښکارندوی دي چې ریاء یو مذموم او بد شي دي نو ځکه په احادیثو کې هم دومره ډیره بدۍ بیان شوې ده .

**درياء په هکله راغلي اثار او دعلماؤ اقوال:**

د ریاء د بدۍ په هکله ګڼ اثار او دعلماؤ ویناوې شته مهمې او ډېرې با ارزښته يې په لاندې ډول دي:

۱-عمر بن الخطاب رضي الله عنه یو کس ولیده چې غاړه یې کته نیولې وه؛ عمر رضي الله عنه ورته وویل: (ارفع رقبتک، لیس الخشوع فی الرقاب، انما الخشوع فی القلوب). (غزالی ، ج ۳ ص ۲۹۶)

یعنې سر دې پورته کړه، خشوع خو په غاړه کې نده، خشوع په زړه کې ده.

۲-علي بن ابي طالب رضي الله عنه فرمايي:(للمرائی ثلاث علامات، یکسل اذا کان وحده و نشیط اذا کان فی الناس و یزید فی العمل اذا اثنی علیه و ینقص اذا ذم). (عدد من المتخصصین ، ج ۱۰ ص ۴۵۶۳)

ژباړه: د رياکار درې نښې دي: چې کله یواځې وي سست عبادت کوي، چې کله په خلکو کې وي ډېر نشیط عبادت کوي او چې کله يې صفت وشي ډېر کار کوي او چې کله يې بدي وویل شي کم کار کوي.

۳–عبادة بن صامت ته چا وویل: (اقاتل بسیفي فی سبیل الله ارید به وجه الله تعالی ومحمدة الناس) یعنې زه په خپله توره جهاد کوم ددې لپاره چې الله تعالی راڅخه راضي شي و خلک مې صفت وکړي، عبادة بن صامت ورته وویل: (لا شیئ لک). تا ته هیڅ ثواب نشته، حتی درې ځلې یې هم دا خبره ورته وکړه.(غزالی ، ج ۳ ص ۲۹۶)

۳–عبدالرحمن بن یزید وایي مونږ علقمه بن قیس ته وویل: که ته په جومات کې نفلي لمونځونه وکړې او مونږ به درسره کینو تر څو پوښتنې درڅخه وکړو، علقمة وویل: ورک یې کړه بیا به خلک وایي، چې علقمة دغه دی. (ابوحاتم ، ج ۱ ص ۲۳۱)

۸–ایوب السختیاني به ټوله شپه ویښ و خو کله به چې سهار شو داسې اواز به یې وکړ چې ګواکې همداوس راپاڅېد. (ابن القیم ،ج 2 ص 96)

**دریاء زیانونه او بدې پایلې**

۱. ریاء اعمال له منځه وړي او ثواب یې ضایع ګرځوي.

۲. ریاء دالله تعالی د عذاب سبب ګرځي، ریاکار دالله تعالی د رحمت څخه شړل شوی او لعنتي وي.

۳. ریاء دکبیره ګناهونو څخه شمېرل کیږي.

۴. ریاء د ریاکار په سختې ناپوهی دلالت کوي.

۵. ریاء په زړه کې یوه داسې ونه ده، چې په دنیا کې یې مېوه وېره، غمونه، اندیښنې، دسینې تنګي او دزړه تاریکي ده او په اخرت کې یې مېوه د زقوم ونه او سخت عذاب دی.

۶. ریاء ریاکار ته فقر راولي او له رنګارنګ فتنو سره یې مخ کوي. لکه جابر بن سمرة وایي چې دکوفې خلکو د خپل والي سعد څخه حضرت عمر ته شکایت وکړ، حضرت عمر رضي الله عنه دموضوع د څېړنې لپاره هیئت ولېږلو، هیئت دکوفې په ټولو مسجدونو کې پوښتنې وکړې خو کله چې د بني عبس مسجد ته راغلل هلته یو کس پورته شو او ویې ویل: دا سعد له سرئې سره نه ځي، سم تقسیم نه کوي او په عدل قضاء نه کوي، سعد پورته شو او ویې ویل: زه هم الله تعالی ته درې دعاګانې کوم: یا الله تعالی! که چیرته دا سړی درواغ وایي او د ریاء او ځان ښودنې لپاره پورته شوې وې؛ نو ده ته ډېر عمر ورکړه، ښه یې فقیر کړه او په فتنو کې یې واچوه، هماغه وو چې عبدالملک وایي ما داکس ولیده چې له ډېر بوډاتوب څخه یې وریځې په سترګو راپرېوتې وې او په لاره کې به یې وینځو ته سترګې وهلې. (ابن الحجر ،ج ۲ ص ۷۵۵)

۷. دقیامت په ورځ به ریاکار خپل ملګري شرمنده کوي، یعنې چاته یې چې ځان ښوولې هغه به هم ده ته څه نه ورکوي.

۸. ریاء عمل سرچپه ګرځوي، یعنې په عمل کې خو اجر وي، خو دریاء له امله بیرته خپل خاوند ته د ګناه پیتې ګرځي.

۹. ریاکار شخص په دنیا کې هم شرمنده وي، شان او شوکت یې ټیټ وي، او دخلکو په سترګو کې سپک ښکاري.

۱۰. الله تعالی به دریاء کار عیبونه راښکاره کړي. (عدد من المتخصصین ،ج ۱۰ ص ۵۴۶۷)

## دریاء څخه دخلاصون علاج

امام غزالي د ریاء څخه دخلاصون علاج داسې ښودلی دی:

ریاء یوه داسې ناروغي ده چې له منځه وړل یې سخته مجاهده او هڅه غواړي او دا په دوه کارونو کېدلی شي.

یو دا چې د ریاء جرړې او بیخ ویستل، چې هغه د جاه او جلال او دمنزلت سره مینه له منځه وړل دي، دا صفت چې درې صفتونه لري: دستاینې سره مینه، له بدۍ بیانولو څخه کرکه او خلکو ته طمع کول، کله چې دا درې واړه له منځه ویوړل شي، جاه او جلال او منزلت سره مینه هم له منځه ځي؛ نو د ریاء جرړې ویستل کېږي.

بله دا چې انسان ته په زړه کې څه خاطرې تیرېږي دهغو دفع کول دي، لکه زړه کې دې ډوله خاطرې تېرېږي، یوه دا چې دانسان په زړه کې تیرېږي چې خلک پرې خبر شي. بله دا چې دانسان په زړه کې تیرېږي چې خلک پرې خبر شي، بله دا چې نفس یې خوښوي چې دده ستاینه وشي، دریمه دا چې دهغو سره دده مرتبه پیدا شي، کله چې اوله خاطره ورته پیدا شي؛ نو هغه دې په دې دفع کړي چې زه یې څه کوم که خلک خبر شي او کنه الله تعالی خو خبر دی. الله تعالی خو یې ګوري د نورو خلکو په خبرولو کې څه ګټه ده؟

او کله چې دویمه خاطره ورته زړه کې پیدا شي چې هغه دنفس ستاینه خوښوي هغه دې په دې دفع کړي چې دقیامت په ورځ د الله تعالی د عذاب مستحق کیدل له دې څخه ډېر سخت دي کوم چې خلک دده ستاینه کوي، یعنې دخلکوستاینه ښه ده او که دقیامت په ورځ دالله تعالی دعذاب مستحق کېدل؟

او کله چې دریمه خاطره (خلکو ته طمع) ورته پیدا شي، هغه دې په دې دفع کړي، چې الله تعالی په هر څه قادر دی، انسان ضعیف او خپله بې وسه دی هغه ماته هیڅ هم نشي راکولی، ټولې ښیګڼې او خیر خواهي الله تعالی سره دي او داسې نور.

همدارنګه د ریاء عملي علاج هم دا دی چې په تنهایۍ کې عبادت کول داخلاص، احسان، صدق، مردنګۍپه صفتونو ځان موصوفول او داحسان، غرور، عجب، نفاق او درواغو له صفاتو څخه ځان ساتل، په هر عمل او خصوصاً په لمانځه کې خشوع او خضوع پیدا کول او داسې نور. (الغزالي ،ج ۳ص ۳۱۰)

**پایله**

له پوره څېړنې څخه وروسته لاندې پایلې په لاس راځي:

۱. ریاء دبل چا لپاره عمل کولو ته وایي تر څو یې وستایي.

۲. ریاء او السمعه دواړه ناوړه اعمال دي.

۴. ریاء ډېر اقسام لري لکه دبدن ریاء، دڅېرې او شکل ریاء، په خبرو کې ریاء، په عمل کې ریاء او نور.

۴. ریاء د ریاکار په اعتبار ډیرې درجې لري چې پورته اشاره ورته وشوه.

۵. د ریاء حکم دا دی چې د ریاکار اعمال باطلوي او له منځه یې وړي، حتی تر دې چې ځینې علماء یې ګناه کبیره شمېري.

۶. درياء څخه خلاصون دوه سترې لارې دي، لکه:

- دهغو شیانو جرړې ویستل له کومو څخه چې ریاء سرچینه اخلي.
- کله چې خطر پیښ کړي هغه سمدستي له منځه وړل.

۷. ریاء ګڼ زیانونه او نقصانات لري، چې وړاندې بیان شول.

**وړاندیزونه**

داچې زمونږه ټولنه کې اکثره ځوانان د ریاء له زیانونو څخه نا خبره دي؛نو معارف محترم وزارت ته مې وړاندیز دی ، چې یاد عنوان د دینیاتو مضمون په نصاب کې شامل کړي.

داچې علماء کرام په ټولنه کې تر هر چا زیات مسئولیت لري ؛نو محترمو علماو ته مې وړاندیز دی ، چې د ممبر د لارې ځوانانو او عام ولس ته د ریاء زیانونه او ناوړه اغېزې روښانه کړي ترڅو ولس د ریاء څخه ځان وساتي.

**ماخذونه**


قران کریم

ابن حجر، أحمد بن علي بن حجر أبو الفضل العسقلاني الشافعي. فتح الباري شرح صحيح البخاري. الناشر: دار المعرفة - بيروت، ۱۳۷۹.

ابن فارس، ابوالحسین احمد ،ابن زکریاء. مقاييس اللغة. دارالفکر، ۱۳۹۹هـ /۱۹۷۹م

ابن قیم، محمد بن أبي بكر بن أيوب بن سعد شمس الدين ابن قيم الجوزية.مدارج السالكين. الناشر: دار الكتاب العربي – بيروت ،الطبعة: الثالثة، ۱۴۱۶ هـ - ۱۹۹۶م

ابن قیم، محمد بن أبي بكر بن أيوب بن سعد شمس الدين ابن قيم الجوزية. الفوائد . مطبعه دارالکتب العلمية بيروت، ۱۳۹۳هـ/۱۷۷۳م.

ابن منظور، محمد بن مكرم بن على، أبو الفضل، جمال الدين ابن منظور الأنصاري الرويفعى الإفريقى. لسان العرب. الناشر: دار صادر – بيروت، ۱۴۱۴ هـ.

البستي، ابوحاتم محمد بن حباب . نزهة الفضلاء. دارالکتب العلمية بیروت، کال ۱۳۹۷هـ/۱۹۷۷م.

الجرجاني، السيدالشريف علي بن محمد الحنفي .التعريفات. اعزازيه مكتبه پشاور مردان.

الذهبي، محمدبن عثمان .الكبائر. مطبعه دارالندوة، الجديدة بيروت.

شيباني، ابوعبدالله احمد بن حنبل . مسند احمد. مؤسسة قرطبه، قاهره

عدد من المتخصصين باشراف صالح بن عبد الله بن حميد إمام وخطيب الحرم المكي. نضرة النعيم. دارالوسيلة، جدة.

الغزالي، ابوحامد محمد بن محمد . احياء علوم الدين . دارالمعرفة بيروت.

القاسمي، محمدجمال الدين بن محمد سعيدالحلاق .موعظة للمؤمنين. مكتبه دارالكتب العلمية بيروت، ١٤١٥هـ/١٩٩٥م

الهيتمي، احمد بن علي ابن حجر السعدي. الزواجر عن اقتراف الكبائر. دارالحلبی مصر.